د کویډ – 19 سره نړۍ په داسې رنځ اخته شوې چې له نږدې یوې پیړۍ راسې داسې بله پېښه نۀ ده را پېښه شوې ټول خلک په دې خبره پوهه دي چې دا ناروغي په عمومي توګه د انسانانو له پاره خطرناکه ده او په خصوصي توګه خو ځینې خلک د دې بیمارۍ ډېر په اسانه ښکار کېدے شي . لکه څنګه چې به مونږ له په ماشومتوب کښې راکولے شو هم هغسې په زرګونو رضاکارانو د تجربو نه پس حفاظتي ویکسین تیار شوي دي.

په تېر اخر ساتئنس پوهان په یو داسې ویکسین جوړولو کښې کامیاب شوي دي چې نۀ صرف د COVID-19 سره مقابله کوي. بلکې ددې په مخنیوي او د هغې د علاماتود شدت په کمولو کښې هم اغیزناک ثابت شوي.

په یقیني توګه داسې یوه دوائي یا ویکسین د امکاني ضمني اثراتو نه بغېر شتون نۀ لري. خو ولې دا معامله په هغه وخت کښې ګونجلکه شي کله چې مونږ ته د ډېرو انسانانو د بچ کولو په لړ کښې د ویکسینو د کردار احساس ووشي.

اوس دا ستاسو ذمه واري ده. زۀ تاسو ته یو څو دقیقې درکووم چې تاسو د خپلو خواخوږو د دې وبائي رنځ نه د بچ کېدو او د هغوي د صحت په لړ کښې مهیم بدلونونه رامېنځته کړئ . ترڅو چې تاسو محفوظ یئ او د ویکسینو په اړه چې تاسو کوم ډول تپوسونو ته اړتیا لرئ ، ستاسو ډاکټر او ستاسو باوري مذهبي مشر ستاسو دَ پوښتنو ځواب درکولو ته چمتو دے.

## ویکسین ښه دي ځکه نو په مېلاوېدو او جوړېدو کښې ئې اضافه شوې ده

د امریکې حکومت ددې وبا دَ راتلو سره سم په ویکسین جوړولو لاس پورې کړے چې په اسانه مېلاؤ شي. د ویکسینو د جوړولو په لړ کښې چې کومه توندي راغلې مثال نۀ لري او ځینې خلک ویره څرګندوي چې هسې نه دغه تیزي د ویکسینو د حفاظت په لړ کښې د زیان سبب وګرځي. ځکه نو حفاظت ئې اولین ترجیح کښې ده او د کرونا د ویکسینو حفاظت په انتهائي پاملرنې سره کېږي .د خوړو او درملو اداره (FDA) دا مهال د ټولو منظور شوو او وړاندېز شوو ویکسینو په غور جائزه اخلي د کومې چې د کلینیکي ازموینو دَ حفاظت او دَ اعدادو شمار د جائزې اخستلو زمه واري ده چې دا معلومه کړي چې د ویکسینو ممکنه فائدې او نقصانونه څه دي.

## په عامه توګه د ویکسینو ضمني اغیزې/ اثرات

اړخیزې اغیزې دَ معمول یو علامت دے چې دَ وجود د مدافعت نظام پیاوړے کوي.

د ویکسینو لګولو په عامو اثراتو کښې درد، په لاس باندې سرۀ نخښه او پړسوب شامل دي (په کوم ځائے کښې چې ئې وهلې وي) او دَ وجود په نورو حصو باندې ستړیا، سر درد، د پټو درد، یخني کېدل، تبه او ټوخے وغېره شامل دي. مګر ځینې خلک دا علامات نۀ لري.

ځینې ویکسین دوه خوراکه پکار وي او په دوېم خوراک کښې اړخیزې اغیزې/اثرات د لومړي ځل د علامتونو نه زیات په شدت سره کېدے شي.دا اړخیزې اغیزې ستاسو دَ ورځني فعالیتونو ترسره کول متاثره کولے شي، باید چې دا علامتونه په څو ورځو کښې لرې شي او که چرته دا علامات لرې نۀ شي نو پکار ده چې مریض ددې طبي پاملره وکړي.

اګر چې ویکسین دَ اړخیزې اغېزې سبب جوړېدې شي خو ولې ویکسین څوک هم دَ کرونا نۀ ښکار کوي. دَ ویکسینو لګولو نه مخکښې دَ ویکسینو دَ ممکنه اړخیزې اغېزو نه دَ بچ کېدو دپاره دَ دوایانو استعمال پکار دے. لکه آئیو پروفین، اسپرین یا ایسیټا منفین وغېره.

## دَ څومره خوراکونو ضرورت دے او ولې؟

فائزر بائیوټیک کویډ – 19 ویکسین او موډرنا کویډ – 19 ویکسین د پاره دوه ډوزه پکار وي. دَ دواړو ډوزو په دوران کښې باید چې دَ یو برانډ ویکسین استعمال شي. د مختلف برانډونو ویکسین دَ یو بل متبادل نشي کېدے.

جانسن اینډ جانسز کویډ – 19 وایکسین صرف یو ډوز پکار وي.

که چرته دَ دواو ډوزو ضرورت وي نو دوېم ډوز به دَ اول ډوز نه دَ څو هفتو په وقفې سره ورکولې شي. او دواړه ډوزونه په عامه توګه د کویډ – 19 خلاف غوره حفاظت ورکوي. لومړی شاټ د مدافعتي نظام له وده ورکوي، کوم چې د وائرس په پېژندلو کښې مرسته کوي، او دوېم شاټ مدافعتي غبرګون له وده کوي.

## کوم ویکسین لګول پکار دي ؟

ځکه چې دلته د کویډ – 19 دَ مخنیوي لپاره ډیر منظوع شوي ویکسین شتون لري دَ کوم چې سپارښتنه هم کېږي ، ناروغان اکثر دا پوښتنه کوي چې دوي باید کوم ویکسین غوره کړي. CDC یو ویکسین له هم په بل باندې لومړیتوب نهٔ ورکوي ، او تاسو باید داسې ویکسین وکاروئ چې کوم په اسانۍ شتون ولري. تاسو ته دَ څه خاص برانډ انتظار نهٔ دې کول پکار.

## ویکسینونه او حمل

تاسو کولی شئ د حمل پرمهال ویکسین ولګوئ

دا غوره ده چې تاسو د ویکسین لګولو نه مخکښې دَ خپل ډاکټر سره مشوره وکړئ چې ایا تاسو ته ویکسین لګول پکار دي که نهٔ؟ هر څو که دَ ویکسینو لګولو نه مخکښې ددې خبرو ضرورت نهٔ وي خو بیاهم مشوره ستاسو د پاره بهتره ده.

## دَ ویکسینو په لړ کښې پیسې ورکول:

په امریکه کښې وفاقي حکومت دَ امیګریشن او صحت انشورنس پالیسۍ نه بالاتر ټولو خلکو ته وړیا ویکسین ورکوي.